## ټرمپ تل د امریکا واقعي څېره ننداريې ته ږدي



**خبر**

ټرمپ د ۲۰۱۹م کال د خپلې کابينې په لومړۍ ناسته کې د سيمې پر هېوادونو؛ روسيې، پاکستان او هند نيوکه وکړه او له هغوی يې وغوښتل چې په افغانستان کې د تروريزم پر وړاندې جګړه کې ډېر ښکېل شي. ده ټينګار وکړ چې امريکا پر شپږ زره ميله واټن سربېره په دغه هېواد کې جنګېږي او د طالبانو او داعش تر منځ جګړې ته په اشارې يې وويل، چې امريکايي ځواکونه بايد د دغو دوو ډلو د جګړې مانع نه شي؛ ځکه دواړې ډلې زموږ دښمنان دي. همدارنګه ده په ۱۹۸۰مه لسيزه کې پر افغانستان د شوروي اتحاد يرغل  ته هم اشاره وکړه او ويې ويل چې د افغانستان جګړې د وخت شوروي اتحاد له مالي سقوط سره مخ کړ او راپرځېدو ته يې ورټېل واهه او شوروي يې پر روسيه بدل کړ. ټرمپ په خورا بې شرمۍ په افغانستان کې د پخواني شوروي د حضور دليل دغه هېواد ته د تروريستانو نفوذ وباله او زياته يې کړه: «روسانو حق درلود، چې پر افغانستان بريد وکړي او هلته حضور ولري.»

**تبصره:**

د ټرمپ اساسي ستونزه دا ده چې هغه د امريکا له کرکې ډک نيت او انګېزې پټې نشي ساتلای، کومې به چې پخوانيو امريکايي چارواکو په خپلو زړونو او ستراتيژيو کې پټې ساتلې. د نومړي دا حالت يوازې د اسلامي امت په اړه نه، بلکې د نړۍ د ټولو ملتونو پر وړاندې د امريکا له کرکې ډک نيت او بدې انګېزې په ډاګه کوي.

ټرمپ تر ټولو وړاندې په افغانستان کې د امريکا د جګړې منطق د شوروي اتحاد د جګړې پر منطق قياس کړ او د امريکا او نورو کفري هېوادونو له نظره يې د "تروريزم" واقعي مفهوم لا روښانه او ډاګيز کړ، کوم چې هر ډول مسلمان مبارزين او مجاهدين د کفارو له ليدلوري "تروريستان" دي. حتی که هغوی داسې جنګيالي وي، چې د تاريخ په يوه دوره کې يې خپله امريکا سياسي، اقتصادي او نظامي ملاتړ کړی وي او يا هغه کسان وي چې د طالبانو او القاعدې پر وړاندې يې امريکا ته د افغانستان د اشغال لار هواره کړې وي او د امريکا او ناټو لپاره د ځمکنيو ځواکونو په توګه جنګېدلي وي.

نو د پایلې په توګه موږ منحط مسلمانان باید راوېښ شو او ټول کفار د اسلام د مبین دین د لارښوونو مطابق د اسلامي امت پر وړاندې واحد ملت وګڼو او هېڅکله د خپل ورور پر وړاندې له دوی هېڅ یوه څخه مرسته وانخلو.

پر دې سربېره ټرمپ خپلو نظامیانو ته دستور ورکوي، ترڅو د اسلامي امت له متفرق او وېشلي حالت څخه ګټه واخلي او پرېږدي چې داعش او طالب یو له بل سره وجنګېږي، ځکه دواړه د امریکا دښمنان دي. په داسې حال کې چې د اسلامي امت دا متفرق حالت خپله د امریکا په رهبرۍ د حاکم نړیوال نظم او د دوی د حاکمو مفکورو پایله ده، ترڅو اسلامي امت هېڅکله ونشي کولای چې د یوه سیاسي نظام په اډانه کې سره یو موټی شي.

ټرمپ د امریکا د دولتي بنسټونو یا Deep State د غوښتنو پر خلاف پر روسیې، هند او پاکستان نیوکه وکړه، ترڅو په افغانستان کې د تروریزم پر وړاندې جګړه کې لا ډېر ښکېل شي. په داسې حال کې چې د امریکایي دولت بېلابېلې ادارې اصلاً په دې راضي نه دي چې د افغانستان د جګړې او سولې د چارو واګې د سیمې هېوادونو ته وسپاري او خپله ېښه له دې کشالې بشپړه وباسي؛ ځکه امریکا د دې موخې لپاره تر نیمې پېړۍ زیاته مبارزه کړې او ټریلیونونه پیسې یې لګولې دي، ترڅو د خپل ځان لپاره په افغانستان کې د پښې ځای پیدا کړي او د امریکا دغه هیله کابو له ۲۰۰۱م وروسته پوره شوې ده.

خو دا چې څه شي ټرمپ اړ کړ، چې په ښکاره دا ډول څرګندونې وکړي، هغه د افغانستان د جګړې او سولې د چارو په برخه کې د پرمختګ نشتوالی و.

ټرمپ وایي: «تاسو زموږ د جنرالو په اړه خبرې کوئ. ما خپلو جنرالانو ته ټولې هغه پیسې چې غوښتې یې، ورکړې؛ خو هغوی په افغانستان کې خپل کارونه ښه پر مخ یو نه وړل. هغوی له ۱۹ کلونو راهیسې په افغانستان کې جنګېږي. جنرال متیس له ما ډېر منندوی و، چې ۷۰۰ میلیارده ډالر چې ده یې تمه هم نه درلوده، ما ورته منظور کړل؛ خو متیس موږ ته څه وکړل؟ هغه موږ ته په افغانستان کې څه وکړل؟ ده هېڅ سم کار تر سره نه کړ او کوم کارونه یې چې په افغانستان کې وکړل، زه ترې راضي نه یم.»

امریکا د خپل تاریخ په خورا اوږده جګړه کې سخته ګیر پاتې ده. که د وخت د سترې بریتانیا او پخواني شوروي په څېر افغانستان پرېږدي، نور به په نړۍ کې د زبرځواک په توګه د امریکا قدرت دوام ونه کړي او حتی د خپلو ایالتونو له بیرنۍ تجزیې سره به مخ شي. نو امریکا د سولې پروګرام ته مخه کړې ده، ترڅو په یوه ډول د افغانستان جګړه ظاهراً پای ته ورسوي، چې د خپلې پښې ځای په دغه هېواد کې وساتي او له پراخو طبیعي زېرمو، جیو ستراتیژیک موقعیت او نشه یي توکو یې اعظمي ګټه پورته کړي.

له همدې امله د امریکا نظامیانو د طالبانو پر اهدافو جګړه تر وروستۍ کچې سخته کړې، ترڅو دا ډله د خبرو اترو میز ته حاضره کړي، چې بالاخره دا کار هم وشو او په دې وروستیو کې د طالبانو د قطر دفتر سیاسي استازو، د طالبانو د کویټې شورا نظامي استازو د پاکستان، سعودي او اماراتو په حضور د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له استازي زلمي خلیلزاد سره د افغانستان د سولې په باره کې په ابوظبي کې وکتل؛ خو تر اوسه د دغو خبرو اترو محسوسې پایلې او پرمختګونه نه دي لیدل شوي.

یوازې هغه څه چې د احساس وړ دی، هغه دا چې د افغانستان د سولې او جګړې موضوع سیمه‌ییز اړخونه موندلي او د روسیې، ایران او چین بلاک د امریکا، پاکستان، سعودي او اماراتو له بلاک سره ښکر اړم کړي. ځکه د امریکا او طالبانو د دوه ځله خبرو اترو له بې نتیجې پاتې کېدو وروسته امریکا پر طالبانو د فشار له ټولو وسایلو استفاده وکړه او د هغوی نظامي استازي یې هم د پاکستان په وسیله د ابوظبي په خبرو اترو کې حاضر کړل او په غیر مستقیمه بڼه یې شپږ میلیارده ډالر د سعودي او درې میلیارده نور د اماراتو په وسیله پاکستان ته ورکړل. دې معاملې د افغانستان د سولې په اړه د سیمې هېوادونو ته په ځانګړې توګه روسیې، چین او ایران ته شکونه پیدا

کړل. نو د هر ډول شک او ابهام د رفع لپاره د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر درې واړو هېوادونو ته سفرونه وکړل، ترڅو له طالبانو سره د سولې په اړه له پاکستان سره د امریکا د معاملې په باب دغو هېوادونو ته ډاډ ورکړي.

ځکه درې واړه هېوادونو؛ چین، روسیې او ایران تر اوسه د طالبانو پر دیپلوماسۍ باور درلود؛ خو کله چې پاکستان ته د سعودي او اماراتو په وسیله د پیسو ورکولو موضوع رامنځته شوه، له پاکستان سره د امریکا معاملې اندیښنې راپیدا کړې، چې ایران ته د طالب استازو سفر هم په همدغه هدف کې خلاصه کولی شو.

مګر دا چې ټرمپ غوندې شخصیت د امریکا ولسمشرۍ ته لار وموندده، دا خپله په انحطاط کې د امریکا پر ډوبېدو روښانه دلیل دی؛ ځکه د "لومړی امریکا!" شعار ټرمپ واک ته ورساوه. له بلې خوا د دغه شعار بریا خپله په امریکا کې د حالاتو د نازکوالي، ستونزو او د دغه هېواد د دریځ پر کمزورتیا ښکاره دلیل دی. له ۱۸ کاله جګړې وروسته اوس امریکا د ۲۰مې پېړۍ امریکا نه ده، بلکه وضعیت یې په ځلونو له کور دننه نازک او ناوړه شوی او په نړیوال ډګر کې یې هم موقف سخت زیان لیدلی. نو امریکا په دغه خاوره (د امپراتوریو په هدیره) کې د خپل موجودیت دوام نه شي تثبیتولی.

د پایلې په توګه د دغو کوبایانو د سولې وړاندیزونه باید افغانان ونه غولوي؛ ځکه امریکا د خپل تاریخ په اوږدو کې له هېڅ ډلې او هېوادا سره په خپل هېڅ یوه شرط او تړون وفا نه ده کړې. که څوک په دې قناعت نه لري، نو ولاړ دې شي د شمال اتحاد له جهادي رهبرانو، له دوستم، حکمتیار، ایران او شمالي کوریا دې وپوښتي. افغان مبارزین باید د امریکا او نورو کفارو او د دوی د مزدورانو -چې د تاریخ په اوږدو کې یې هېڅ خیر نه دی ترې لیدلی- د پروګرامونو پر ځای د اسلام پر پیاوړې اجنډا منګولې ولګوي؛ ترڅو د دوی مبارزې او هلې ځلې نه یوازې د افغانانو ستونزې هوارې کړي، بلکې د نړۍ د ټولو مسلمانانو لپاره د حل لارې پیلامه شي.

**سیف الله مستنیر**